# د روزانه

# قوت

# د روزانه قوت

**د دِ دپاره چه د صبر او د کتاب مقدس نه د تسلئ اُمید ولرو.**
(**رومیان** ١٥: ٤)

**په دِ کتابچه کښې کلام د مقدس کتاب نه اخستے شوے دے.زمونږ امید دے چه د دِ لوستنه به تاسو له قوت او حوصله درکړی چه تاسو د بائبل مقدس نور تلاوت وکړئ.**

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل: " ستاسو غمژن زړونه دِ ګبراؤ نۀ شی ، په خدائ یقین لرئ ، او هم په ما یقین لرئ. زۀ تاسو ته سلامتیا پریږدم ، زما خپله سلامتیا ، هغه چه دنیا یی نۀ شی ورکولے. مۀ ګبراویږئ او مۀ ویریږئ. "** (**یوحنا** ١٤: ١، ٢٧)

**"اے تاسو چه ټول خواری کوئ او پنډ مو درووند دے ، ما له راشئ او زۀ به آرام درکړم."** (**متی** ١١: ٢٨)

# خدایا ، تهٔ ډیر لوی یی.زبور ١٠٤ : ٦

خدائ وفرمائیل: ” ما تاسو سره ابدی مینه وکړه ، او ما تاسو باندیخپل شفقت زیات کړو. “ (یرمیاه ٣١: ٣)
خو خدائ خپله مینه مونږ ته داسی ښکاره کړه ، کله چه مونږ لا ګناه ګار وو نو مسیح زمونږ دپاره مړ شو. (رومیان ٥: ٨)
خدائ مونږ له د تل ژوندون راکړے دے ، او دا ژوندون د هغهٔ په زوئ کښی دے. څوک چه د خدائ زوئ لری هغه ژوندون هم لری ، او څوک چه د خدائ زوئ نهٔ لری هغه ژوندون هم نهٔ لری. (اول خط د یوحنا ٥: ١١-١٢)

# ما راپورته کړه چه خلاصون ومومم.
# زبور ۱۱۹: ۱۱۷

**خدائ زمونږ پناه او قوت دے. او په تکليفونو کښی هميشه زمونږ مددګار دے.** (**زبور** ٤٦: ۱)

**خدائ ستاسو ابدی پناه ګاه دے. او هميشه مو په لاسونو کښی ساتی.** (**استثنا** ۳۳: ۲۷)

**خدائ وفرمائيل: ''زۀ به تاسو له قوت درکوم ستاسو مدد به کوم او زۀ به تاسو د صداقت په ښی لاس کښی ساتم.''**
(**يسعياه** ٤۱: ۱۰)

## زما نه مهٔ لرې کېږئ ځکه چې سختې نژدې ده.
## زبور ۲۲: ۱۱

خدائ وفرمائيل: "د تکليف په وخت کښې ما ته فرياد وکړه ، نو زهٔ به تا خلاص کړم او تهٔ به زما لوئي وکړې." (زبور ۵۰: ۱۵)
خپل بار هغهٔ ته وسپارئ هغه به ستاسو مدد کوی. (زبور ۵۵: ۲۲)
د مصيبت په ورځ کښې به هغه ما په خپل امان کښې وساتي او د خپلې خيمې په پړدې کښې به مې پټ کړي په ګټ باندې به مې وخيژوی. (زبور ۲۷: ۵)

## پلاره! زهٔ د خدائ او ستا په مخکښې ګناه ګار يم.
## لوقا ۱۵: ۲۱

خدائ رحيم او کريم دے، په غصه کښې سست او ډير مهربان دے.
(زبور ۱۰۳: ۸)

خدائ وفرمائيل: ''زهٔ به هغوی خپل مننونکی جوړ کړم او هغوی سره به مينه وکړم ، ولې چه زما قهر د هغوی نه لرې شوے دے.''
(هوسيع ۱۴: ۴)

د دِ دپاره اے مالکه! نيک يې او معاف کولو ته تيار يې ، او په هغو ټولو چه تا ته فرياد کوی. (زبور ۸۶: ۵)

## اے مالکه! زهٔ غریب او محتاج یم ماله زر راشه.
## زبور ۷۰: ۵

زما خدائ به ستاسو هر حاجت د خپل بے پایانه دولت په مطابق د مسیح عیسیٰ په وسیله پوره کړی. (فیلیپیان ٤: ١٩)

هغهٔ خو خپل زوئ هم پری نهٔ ښودو او زمونږ ټولو دپاره یی قربان کړو ، نو د دِ بخښنی سره به نور ټول څیزونه رانهٔ کړی څهٔ؟ (رومیان ۸: ۳۲)

خپله لار مالک ته وسپاره ، او په هغهٔ باندی توکل کوه.
(زبور ۳۷: ۵)

## اے خدایا : ما مۀ رد کوه او ما مۀ پرېږده. زبور ۲۷: ۹

مالک ډېر مهربان او رحیم دے. (یعقوب ۵: ۱۱)

هغه ستاسو په فریاد اوریدو سره په تاسو رحم وکړی او په آوریدو سره به جواب درکړی. (یسعیاه ۳۰: ۱۹)

مالک رحیم او کریم دے. مالک هغه ټولو ته نزدی دے چه تری نه دعا غواړی. (زبور ۱٤۵: ۸,۱۸)

## ما ته هغه لار وښايه چه پرې تلل پکار دي.
## زبور ۱٤۳ : ۸

مالک به هميشه ستاسو رهنمائ کوي. (يسعياه ۵۸: ۱۱)

مالک به هميشه ستاسو مخکښې روان وي او تاسو سره به وي ، هغه به هيڅ کله تاسو نۀ پرېږدي او نۀ به درنه لاس اخلي. (استثنا ۳۱: ۸)

رب تر ابده پورې زمونږ رب دے ، او هغه به تر مرګه پورې زمونږ لارښود وي. (زبور ٤۸: ١٤)

# مالک عیسیٰ راشه. مُکاشفات ۲۲: ۲۰

دغه عیسیٰ څوک چه ستاسو نه آسمان ته بوتلے شو ، هم په دغه لار به بیا راځی په کومه چه تاسو د تلو په وخت ولیدو.
(اعمال ۱: ۱۱)
کله چه عیسیٰ راښکاره شی نو مونږ به د هغهٔ په شان شو ځکه چی مونږ به یی هم په هغه شان ووینو څنګه چه هغه دے.
(اول یوحنا ۳: ۲)
کله چه هغه ظاهر کړے شی نو تاسو به هم د هغه سره په جلال کښی ظاهر کړے شئ. (کولوسیان ۳: ٤)

## اے مالکه...تهٔ زما د پناه دپاره مضبوط ګټ یې.
## زبور ۳۱: ۱ ، ۲

په مالک باندې باور ولره ولې چه هغه زمونږ ابدی پناه ګاه دے.
(یسعیاه ۲۶: ٤)

خدائ وفرمائیل: "زما فضل ستا دپاره کافی دے ځکه چه زما طاقت په کمزورتیاؤ کښې پوره کیږی." (دویم کورنتیان ۱۲: ۹)

عیسیٰ مسیح پرون ، نن او تل تر تله په یو شان دے.
(عبرانیان ۱۳: ۸)

**زهٔ عقیده لرم ، زما مدد وکړه ځکه چی زهٔ د عقیدی کمزورے یم. مرقوس ۹ : ۲٤**

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ''ستاسو غمژن زړونه د ګبراو نهٔ شی ، په خدائ یقین لرئ ، هم په ما یقین لرئ.''** (**یوحنا** ۱٤: ۱)

**ځکه چه زما دا باور دے چه د خدائ د مینی نه چه زمونږ یی په خپل مالک عیسیٰ مسیح کښی لرو ، نهٔ مرګ او نهٔ ژوندون ، نهٔ فرښتی ، او نهٔ نور آسمانی حاکمان ، نهٔ قوتونه ، نهٔ اوسنی او نهٔ راتلونکی څیزونه ، نهٔ پاسنئ دنیا او نهٔ لاندینئ دنیا او نهٔ په څهٔ مخلوقات کښی داسی هیڅ څیز نشته چه مونږ جدا کولے شی.**
(**رومیان** ۸: ۳۹_ ٤۰)

# زما د ځوانئ ګناهونه مهٔ یادوه. زبور ۲۵ : ۷

خدائ وفرمائیل: ''ویریږه مه ، ما تهٔ اخستے یی ، ما تهٔ په نوم باندی رابللے یی. تهٔ زما یی.'' (یسعیاه ۴۳ : ۱)
''هم زهٔ یم هغه چه د خپل نوم په خاطر ستا ګناهونه صفا کوم ، او ستا ګناهونه یاد نهٔ ساتم.'' (یسعیاه ۴۳ : ۲۵)
''ویریږه مه ځکه چه زهٔ تا سره یم.'' (یسعیاه ۴۱ : ۱۰)

# زما قوت زما د بدئ په سبب کم شو. زبور ۳۱: ۱۰

خدائ مات زړۀ لرونکو ته نزدی دے او هغوی ته چه روح یی غمجن دے خلاصون ورکوی. (زبور ۳۴: ۱۸)

مضبوط شه او حوصله وساته. ولی چه مالک ستا خدائ به تا سره وی هر چرته چه تۀ ځی. (یشُوع ۱: ۹)

د خدائ د عظیمی مینی په سبب مونږ نۀ فنا کیږو ، ځکه چه د هغه رحم نۀ ختمیدونکے دے. هغوی هر سحر تازه وی. ستا وفاداری عظیمه ده. (نوح ۳۲: ۲۲_ ۲۳)

# اے مالکه...زما فریاد واوره. زبور۲۸: ۱، ۲

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ''رښتیا رښتیا درته وایم ، که چری تاسو زما په نوم د پلار نه چه څۀ وغواړئ نو هغه به یی درکړی.''**
(**یوحنا** ۱۶: ۲۳)

**''کومه دعا چی تاسو په ایمان وغواړئ نو هغه به واړه قبوله شی.''**
(**متی** ۲۱: ۲۲)

**''ځکه چه هر څوک چه غواړی ، هغه یی اخلی او څوک یی چه لټوی ، هغه یی مومی او څوک چه ور ټکوی ، هغۀ ته دروازه بیرته کیږی.''** (**لوقا** ۱۱: ۱۰)

## اے مالکه! پورته شه، ما بچ کړه! زبور ۳: ۷

خدائ خپل زوئ دنیا ته د دنیا د مجرم کولو دپاره نهٔ دے رالیږلے بلکه د دِ دپاره چه د هغهٔ په وسیله دنیا خلاصون بیا مومی.
(یوحنا ۳: ۱۷)
هر هغه څوک چه د مالک په نوم زاری کوی ، هغه به خلاصون بیا مومی. (رومیان ۱۰: ۱۳)
مالک سره نهٔ ختمیدونکی مینه ده او هغهٔ سره ډیره فدیه ده.
(زبور ۱۳۰: ۷)

## په آسمان کښې زمونږ پلاره...مونږ له د بدئ نه آرام راکړه. متی ٦: ٩، ١٣

خدائ ریښتونے دے او هغه به تاسو ستاسو د طاقت نه په زیات ازمیښت کښې نۀ اچوی ، بلکه د ازمیښت سره به د وتلو لار هم پیدا کړی چه تاسو یی وزغملے شئ. (اول کورنتیان ١٠: ١٣)

نو مالک پوهیږی چه هغه څنګه دینداران د آزمیښت نه بچ کوی. (دویم پطروس ٢: ٩)

زۀ به د هیڅ بدئ نه نۀ ویریږم ځکه چه تۀ ما سره یی. .
(زبور ٢٣: ٤)

## اے خدایا...ما د خپلو ګناهونو نه پاک کړه.
## زبور ۵۱: ۱، ۲

مالک فرمائی ”راځئ چې خبرې وکړو. اګر کۀ ستاسو ګناهونه تک سرۀ دی هغه به لکه د واورې په شان سپین شی.“ (یسعیاه ۱: ۱۸)
هغه زمونږ د ګناهونو په سبب وهلے شو او زمونږ په سر کښې هغه وټکولے شو. (یسعیاه ۵۳: ۵)

کۀ مونږ د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دے، او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی. (اول یوحنا ۱: ۹)

**مالکه! زما ایمان د ے ، هم تهٔ مسیح یی د خدائ زوئے. یوحنا ۱۱: ۲۷**

خدائ د دِ دنیا سره داسی مینه وکړله چه خپل یکی یو زوئ یی هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوئ یی ایمان راوړی هغه هلاک نهٔ شیخو د تل عمری ژوندن بیا ومومی. خدائ خپل زوئ دنیا ته د دنیا د مجرم کولو دپاره نهٔ دے رالیږلے بلکه د دِ دپاره چه د هغهٔ په وسیله دنیا خلاصون بیا مومی. (یوحنا ۳: ۱۶، ۱۷)

# اے خدایا... ما د خپله حضورَ مۀ شړه.
# زبور ۵۱: ۱۰_ ۱۱

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ''اے تاسو چه ټول خواری کوئ او پنډۀ مو درووند دے، ماله راشئ او زۀ به آرام درکړم.'' (متی ۱۱: ۲۸)

''څوک چه ماله راځی هغه به زۀ هیڅ کله ونۀ شړم.''
(یوحنا ٦: ۳۷)

''زۀ د ژوندون ډوډئ یم. څوک چه ماله راځی هغه به هیڅکله نۀ وږی کیږی او څوک چه په ما ایمان راوړی هغه به هیڅکله نۀ تږی کیږی.'' (یوحنا ٦: ۳۵)

# اے خدایا...زما په ګناهونو باندی پرده واچوه.
# زبور ۵۱: ۱

خدا ے فرمائی: "ما ستا خطا دسحر د لړی په شان او ستا ګناهونه د وریاځو په شان لری کړی دی. ما له راشئ ولی چه ما ستا فدیه ورکړی‌ده." (یسعیاه ٤٤: ۲۲)

هغۀ زمونږ د ګناهونو په مطابق مونږ سره سلوک ونۀ کړو او زمونږ د ګناهونو بدله یی رانۀ کړه. بلکه څنګه چه آسمانونه په زمکه باندی اوچت دی دومره لویه د هغۀ مهربانی ده په هغوی باندی چه ترینه یریږی. لکه څومره چه د نمر خاتۀ نه نمر پریواتۀ لری دے دومره یی زمونږ نه زمونږ ګناهونه لری کړل.
(زبور ۱۰۳: ۱۰_ ۱۲)

**زۀ د ورکی شوی ګډی په شان ورک شوم. د خپل بنده لټون وکړه. زبور ۱۱۹ : ۱۷۶**

**مسیح ستاسو د ګناهونو د خاطره یو ځل همیشه دپاره مړ شو ، یعنی صادق د ګناه ګارانو دپاره ، د دِ دپاره چه مونږ خدائ ته ورسوی.(اول پطروس ۳: ۱۸)**
**خو تاسو چه اول لری وئ اوس د مسیح په یووالی کښی د مسیح د وینی په وسیله نزدی شوئ. (افسیان ۲: ۱۳)**
**لنډه دا چه څوک چه د عیسیٰ مسیح سره یووالے لری ، د هغوی مجرم کیدل نشته. (رومیان ۸: ۱)**

## اے خدايا...ما د خپلو وزَرو لاندی پټ کړه.
## زبور ١٨ : ٦، ٨

او خپل ټول فکر په هغۀ باندی واچوئ ځکه چه هغه ستاسو خيال لری. (اول پطروس ٥: ٧)
خدائ وفرمائيل: ”زۀ به هيڅ کله هم ستاسو نه بی پرواه کيږم نه ، او تاسو به هيڅ کله پری نۀ ږدم.“ (عبرانيان ١٣: ٥)
مالک زما قوت او زما ډال دے، زما زړۀ هغۀ باندی يقين کوی، او ما ته مدد ملاو شوے دے. (زبور ٢٨: ٧)

## اے خدایا تهٔ ما وساته ځکه چې زهٔ په تا باندې توکل کوم. زبور ۱۶ : ۱

خدائ ستا حافظ دے ـــ خدائ ستا په ښې لاس ستا سورے دے.
خدائ به تا د هرې بدئ نه محفوظ کړی ـــ هغه به ستا ځان محفوظ کړی. خدائ به ستا وتل ننوتل محفوظ کړی د اوس نه تر ابده پورې. (زبور ۱۲۱: ۵، ۷_۸)
څوک چه قائم دی تهٔ به هغوی محفوظ ساتې ځکه چه د هغوی توکل په تا باندې دے. (یسعیاه ۲۶: ۳)

## اے خدایا ...ما ووینځه چه د واورى نه زيات سپين شم. زبور ٥١ : ١، ٧

**اود هغۀ د زوئ عيسیٰ وينه مونږ د هر يو ګناه نه پاکوى.**
(**اول يوحنا** ١ : ٧)
**مونږ ته د مسيح د وينی په وسيله خلاصون ، يعنی د ګناهونو معافی، د هغۀ د هغه فضل په مطابق حاصله ده.** (**افسيان** ١ : ٧)
**د بل هيچا په وسيله خلاصون نشته ځکه چه په ټوله دنيا کښی بل نوم هيچا ته نۀ دے ورکړے شوے چه په هغی مونږ خلاصون ومُومو.**
(**اعمال** ٤ : ١٢)

## اے ربه په ما کښې پاک زړهٔ پيدا کړه.
## زبور ۵۱: ۱۰

وګورئ! د خدائ ګډورے چه د دنيا ګناه په ځان وړی.
(يوحنا ۱: ۲۹)
عيسىٰ مسيح وفرمائيل: ''په رښتيا رښتيا زهٔ تاسو ته دا وايم چه د ايمان راوړنکے د تل ژوندون خاوند دے.'' (يوحنا ۶: ۴۷)
ګورئ د قبليدو وخت اوس راغلے دے ، ګورئ دا د خلاصون ورځ ده. (دويم کورونتيان ۶: ۲)

## مالکه! زما مدد وکړه! متی ۱۵: ۲۵

**زهٔ مالک ستا خدائ ستا ښے لاس به ونیسم او درته به وایم چه ویریږه مه ، زهٔ به ستا مدد کوم.** (**یسعیاه** ۴۱: ۱۳)

**تاله د تسلئ درکولو واله هم زهٔ یم. ځکه چه زهٔ ستا مالک ستا خدائ یم.**(**یسعیاه** ۵۱: ۱۲، ۱۵)

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل:** "**زهٔ به تاسو یتیمان نهٔ پریږدم ، زهٔ تاسو ته بیرته راځم.**" (**یوحنا** ۱۴: ۱۸)

## اے خدايا ...خپل قوت خپل بنده ته ورکړه.
## زبور ۸٦: ١٤، ١٦

تهٔ د غريبانانو دپاره پناه شوی په غم کښی د حاجتمندو دپار پناه شوی ، دطوفان نه بچ کولو دپاره پناه ګاه او د ګرمئ نه بچ کولو دپاره سورے شوی. (يسعياه ۲۵: ٤)

خدائ د مظلومانو دپاره پناه ګاه دے او د مصيبت په وخت کښی کلا. (زبور ۹: ۹)

د خدائ مينه د ازل نه تر ابده پوری ده څوک چه د هغهٔ نه ويريږی. (زبور ۱۰۳: ۱۷)

## اے خدایا ... زما دعا واؤره. زبور ۳۱: ۱٤، ۱٦

کۀ مونږ د هغۀ د مرضئ په مطابق سوال ترى نه کوؤ نو هغه زمونږ آورى. (اول یوحنا ٥: ١٤)
نو راځئ چه مونږ د خدائ د فضل د تخت په وړاندې په زړۀ ورتيا يُون کوو چه په مونږ رحم وشى او هغه فضل حاصل کړو کوم چه د حاجت په وخت زمونږ مدد وکړى. (عبرانيان ٤: ١٦)
د هيڅ خبرى فکر مۀ کوئ بلکه په هره خبره کښى تاسو درخواستونه د دعا او د زارئ په وسيلى د شکر ګزارئ سره د خدائ په حضور کښى پيش کړئ. (فيليپيان ٤: ٦)

## اے مالکه ...په خپلی نۀ ختمیدونکی مینی سره ما بچ کړه. زبور ۳۱: ۱۴، ۱۶

او ابن آدم دِ له راغلے دے چه ورک شوی ولټوی او بچ یی کړی.
(لوقا ۱۹: ۱۰)

مسیح هم ستاسو دپاره مصیبت وزغمو...هغۀ زمونږ ګناهونه سولئ ته د خپل ځان سره یوړل. (اول پطروس ۲: ۲۱، ۲۴)

خدائ هغه په دریمه ورځ بیا راژوندے کړو. هر هغه څوک چه په هغۀ ایمان لری‌نو د هغۀ په نوم به د ګناهونو نه معافی بیا مومی.
(اعمال ۱۰: ۴۰، ۴۳)

**اے خدایا! په ما رحم وکړه! زهٔ ډیر ګناه ګار یم.**
**لوقا ۱۸: ۱۳**

ګورئ د خدائ لاسونه واړهٔ نهٔ شول چه بچ کولے نهٔ شی او نهٔ د هغهٔ غوږونه درانهٔ شول چه اوریدے نهٔ شی. (یسعیاه ۵۹: ۱)
عیسیٰ مسیح ګناه ګارانو ته د خلاصون ورکولو دپاره دنیا ته راغے. (اول تیموتیوس ۱: ۱۵)
د دِ دپاره چه څوک د دهٔ په وسیله خدائ ته راځی هغه هغوی ته پوره پوره خلاصون ورکولے شی ځکه چه هغه د هغوی د شفاعت دپاره همیشه ژوندے دے. (عبرانیان ۷: ۲۵)

## تهٔ به ما ته د ژوندانهٔ لار ښائی. زبور ۱٦: ۱۱

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ”زهٔ ښهٔ شپونکے یم او ښهٔ شپونکے د ګډو د پاره خپل سر ورکوی. زما خپلې ګډې زما آواز آوری، زهٔ هغوی پیژنم او هغوی ما پسې راځی. زهٔ هغوی له د تل ژوندو ورکوم او هغوی به هیڅ کله هم هلاک نهٔ شی او هیڅوک به یې هم زما نه ونهٔ شوکوی.“ (**یوحنا** ۱۰: ۱۱، ۲۷_ ۲۸)

”ځکه چه زهٔ ژوندے یم نو تاسو به هم ژوندی یئ.“
(**یوحنا** ۱٤: ۱۹)

## اے عیسیٰ! هر کله چه تهٔ خپلی بادشاهئ ته راشی نو ما یاد کړه!. لوقا ۲۳ : ٤۲

خو خدائ چه په رحم غنی دے. چه مونږ چه د ګناهونو په وجه مړهٔ وو نو مونږ یی د مسیح سره بیا ژوندی کړو. تاسو په فضل خلاصون موندلے دے. او خدائ مونږ د مسیح عیسیٰ سره راژوندی کړو او په آسمان کښی یی د هغهٔ سره کښینولو. (افسیان ۲: ٤_ ٦)

خدائ زما خلاصون دے ، زهٔ به په هغهٔ باندی توکل کوم او ویریږم به نه. (یسعیاه ۱۲: ۲)

# زبور ۲۳

رب زما شپون دے ما ته به د هيڅ څيز کمے نۀ وی. هغه ما په شنو
شنو واښو کښې کښينوی. او ما د آرام د اُوبو د چينو خوا ته
بوځی. هغه ما بحال کوی. هغه د خپل نوم په خاطر ما د صداقت
په لارو بوځی. کۀ چرې د مرګ په وادۍ زما تيريدل وی نو زۀ به
د هيڅ بلا نه ونۀ يريږم ولی چه تۀ ما سره يې. ستا په لخته او ستا
په کونټۍ زما تسلی ده. تۀ زما د دُښمنانو په مخامخ زما په
مخکښې دسترخوان غوړوی. تۀ مې سر په تيلو غوړوی. زما پيالۍ
تر مورګو پورې ډکه ده. يقيناً نيکی او مهربانی به ټول عمر ما سره
وی. او زۀ به د خدائ په کور کښې اوسيږم.

# زبور ٤٦

خدائ زمونږ پناه او زور دے. او د تکلیف په وخت کښې همیشه حاضر دے.
نو د دِ په وجه مونږ دِ ونهٔ یریږو کهٔ زمکه اُلټا شی او غرونه د سمندر په تَل کښې وغُرزولے شی. کهٔ چرې اوبهٔ غړمبیږی او ځګ پورته کړے شی. کهٔ چرې د هغو د چپو نه غرونه وخوځیږی. یو سیند چه دهغې شاخونه د خدائ ښار خوشحالوی. د حق تعالٰی د مسکنونو ځائے. خدائ په هغهٔ کښې دے او هغه به هیڅ کله ونهٔ خوځولے شی.
خدائ به سحر وختې د هغوی مدد کوی. غیرو قومونو نارې ووهلې ، بادشاهتونه وخوځیدل، هغهٔ آواز وکړو، زمکه ویلې شوه. د لښکرو خدائ زمونږ سره دے، د یعقوب خدائ زمونږ پناه دے.
راشئ د خدائ کارونه وګورئ چه هغهٔ په زمکه باندې

ځومره خرابیانی کړی دی. هغه د زمکی آخره پوری جنګونه ختموی، لیندی یی ماتوی او نیزی یی دوه ټکړی کوی او ګاډی یی په اور سیځی.صبر وکړئ او پوهه شئ چه زهٔ خدائ یم ، زهٔ به د غیرو قومونو په مینځ کښی پورته کړے شم زهٔ به په زمکه کښی پورته کړے شم د لښکرو خدائ مونږ سره دے، د یعقوب خدائ زمونږ پناه دے.

# زبور ۱۲۱

زهٔ خپلې سترګې د غرونو په لورې پورته کوم ــ زما مدد د کوم ځائې نه راځي؟ زما مدد د خدائ نه راځي چا چه زمکه او آسمان پيدا کړيدي. هغه به ستا ښپې ښويدلو ته نهٔ پرېږدي ستا حافظ به اودهٔ نهٔ شي. ګوره د بني اسرائيلو حافظ نهٔ به څملي او نهٔ به خوب وکړي. خدائ ستا حافظ دے خدائ ستا په ښي لاس ستا سورے دے . نهٔ به د ورځې نمر تا ته څهٔ ضرر دررسوی او نهٔ سپوږمۍ د شپې.خدائ به تا د هری بدئ نه محفوظ ساتي او خدائ به ستا ژوند محفوظ ساتي. خدائ به ستا تلل راتلل محفوظ کړي د اوس نه واخله تر آخره پورې.

# دُعا

اے په آسمان کښې زمونږ پلاره!
ستا نوم د پاک وی.
ستا بادشاهی دِ راشی. ستا مرضی دِ مزکه پوره شی
څنګه چه په آسمان کښې پوره کیږی.
مونږ ته نن خپل ننئ رزق راکړه.
زمونږ قصورونه معاف کړه
لکه څنګه چه مونږ خپل قصوروار معاف کړی دی.
او مونږ په آزمیښت کښې مهٔ اچوه ،
خو مونږ له د بدئ نه آرام راکړه.
ولی چه بادشاهی او قدرت
او لوئی تر همیشه پوری ستا دی. آمین.

SGM International

Pashto (DS), 2004, 3. 5 m